دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت شپږم کال، ۲۳ مه ګڼه، پرله پسې ۲۷۷ مه ګڼه   سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د وږی ۱۱ مه   د ۱۴۳۵ هـ ق د ذوالقعده الحرام ۷ مه   د۲۰۱۴ م د سپتمبر ۲ مه

درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسې له الله جل جلاله سره رښتیني مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسې سره مینه وکړي او ګناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منـنـه وکړئ. که مخ یې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آیتونه)

درس حدیث

از ابوهریره (رض) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «همهٔ امتیان من وارد بهشت خواهند شد مگر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرماني کند، در حقیقت، امتناع ورزید ه است». (صحیح البخاری)

سانچارکي:

که تر ۲۴ ساعتو پورې مو قانوني غوښتنې ونه منل شي سیاسي پروسه هم قطع کوو

((کابو یو اشاریه پنځه میلیونه رایې د یوه یا دوو تنو له لوري ټیک مارک او ریزلټ شتونه یې لاسلیک شوي دي.))

((که کمېسیون د رایو له کره څېړنې پرته د ټاکنو پایلې اعلان کړي، خلک به یې پر وړاندې پاڅون وکړي او وبه یې نه منـي))

کابل، وسنی:
د اصلاحاتو او همپالنې ټیم ملګرو ملتونو او سیال ټیم ۲۴ ضرب الاجل ورکړ، که یې قانوني غوښتنو ته ځواب ورنه کړي، نو د سیاسي پروسه به هم قطع کړي.
یاد ټیم په ټاکنو کې د درغلیو د څېړنو اسنادو په خبرولو سره وویل، چې په ټاکنو کې یو اشاریه پنځه میلیونه رایې د یوه تن له لوري ټیک مارک شوي دي.
د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم ویاند سید حسین اغا فاضل سانچارکي یادې خبرې ناستې ته په وینا کې، تر راتلونکیو ۲۴ ساعتونو پورې ضرب الاجل ورکړ که یې مشروع او قانوني غوښتنو ته ځواب ورنه کړل شي، له سیاسي او تخنیکي پروسې سره به خدای په اماني وکړي.
هغه وویل، ژمنه ورکړل شوې، چې تخنیکي او سیاسي پروسه به په شفافیت مخ ته ځي او په وینا یې، که دا پروسه شفافه نشوه، نو سیاسي او تخنیکي پروسه به هم قطع کړي.
هغه زیاته کړه، چې له سیال ټیم سره د نړیوالې ټولنې د وړاندیزونو پر اساسي قانوني څېړنو ته چمتو شوي ول او هېڅکله یې نه دي غوښتي، چې د درغلیو رایو په رامنځته شوي ټیم سره د ملي یووالي حکومت جوړ کړي.
هغه زیاته کړه، که کمېسیون... (۴ مخ)

مستغنی:

افغانستان برای شرکت در نشست ویلز آماده گی های خاص گرفته است

کابل، رسانه ها:
در حالیکه هنوز هم سرنوشت انتخابات روشن نیست، وزارت خارجه افغانستان ابراز امیداوری می کند که نماینده، افغانستان از نشست ویلز با دست پُر بر گردد.
وزارت خارجه افغانستان انتظاردارد که در نشست ویلز، سران کشور های عضو ناتو به تعهداتی که برای تجهیز و آموزش نیرو های نظامی افغان پس از ۲۰۱۴ میلادی کرده اند، موافقه کنند.
احمد شکیب مستغني سخنگوی این وزارت می گوید که حکومت افغانستان آماده گی های خاصی را برای اشتراک در این نشست گرفته است و اعضای کمیته، کاری حکومت افغانستان نیز به لندن رسیده اند.
آقای مستغني روز دوشنبه در کابل به خبرنگاران... (ص ۴)

اسلام آباد:

د خان او قادري پلویانو پر دولتي ودانیو بریدونه کړي

پاکستان، وسنی:
د پاکستان په پایتخت اسلام اباد کې د عمران خان په مشری د تحریک انصاف او د طاهر القادري په مشری د عوامي تحریک ګوند زرګونو قهرجنو مظاهره چیانو د پاکستان د دولتي تلویزیون ودانۍ ته ورننوتي؛ خپروني یې ځنډولي او ودانۍ ته یې پر زیان اړولو سربېره د تلویزیون ډېری کارمندان ډېولي دي.
د عمران خان او د طاهر القاردي زرګونه مظاهره چیان، چې اګست له ۱۴م نېټې راهیسې په اسلام اباد کې پراخ لاریونونه پیل کړي او د نواز شریف د استعفا او د حکومت د منحلولو غوښتنه کوي.
دا مظاهرې تر هغې وروسته په تاوتریخوالي واوښتې، چې د یکشنبې په شپه د عمران خان او قادري پلویانو د پاکستان پر پارلمان او د صدراعظم د دفتر پر ودانۍ یرغل وکړ او له پولیسو سره یې نښتې رامنځته شوې، چې په ترڅ کې یې تر دې دمه د روغتیایي چاروا کیو په وینا لږ تر لږه ... (۴ مخ)

دیگر، رحمی بحال ملت و کشور به کار است

فدامحمد فایض

((۵۷ در صد آرای دور اول به ۴۵ درصد تقلیل داده شد و در دور دوم از ۴۵ در صد هم به ۴۳ در صد؛ ولی جناح دیگر که بخت خوابیده اش بیدار شد و ارگ، کمیسیون انتخابات و غالباً یوناما هم در کنارش قرار گرفت و ارگ سوگند یاد کرد که آن جناح دیگر را نگذارد داخل ارگ شود، چنان جست زد که ۳۱ در صد به بالاتر از ۵۶ درصد رسید در حالی که اکثریت نامزدان دور اول و قویترین نامزدان دور اول با آن جناح دیگر یکجا شده بود. راستی همان حرف کردکی راست برآمد؛ وقتی سال گرم بیاید درختهای غیر مثمر هم به ثمر میآید.))

همین اکنون همان حرف جیمز کالاهان که به جنرال ضیاء الحق رئیس جمهور پیشین پاکستان داده بود و من از طریق مطبوعات آن کشور، آنرا خوانده بودم، بیادم آمد، وقتی ضیاء از او مشوره خواسته بود او در جوابش گفته بود: «سعی کن بملتت دروغ نگویی» متأسفانه امروز در جهان معمول شده است که رهبران جهان بملت خود راست نمیگویند، ما میگوییم خدا را! اول راست بگویید؛ باز اگر از راست خوش تان نمیآید دروغ نگویید.

وقتی زمان آمد آمد انتخابات نزدیک میشد، اذهان همه به سوی ارگ معطوف بود که درست است که رئیس جمهور با درنظر داشت حکم قانون اساسی برای بار سوم نمیتواند خود را نامزد کند؛ ولی این را همه میدانستند که حمایت رئیس جمهور از یک کاندید نقش خود را دارد؛ از همین جهت گوشها و هوشها بسوی ارگ معطوف بود که رئیس جمهور از کی حمایت خواهد کرد؟ ولی رئیس جمهور از روی بزرگ منشی خود گفت که او بی طرف است و از هیچ نامزد مشخص حمایت نمیکند. چنین موقفی اگر رئیس جمهور به آن وفادار میماند بر شخصیت او می افزود و باید هم او بی طرف باقی میماند. البته اینکه او منحیث یک فرد به چه کسی رأی میداد، حرف جداگانه یی بود و آن حق مسلمش بود. تا خیلی حتی نامزدان به همین عقیده بودند که رئیس جمهور طبق وعده از هیچکس حمایت نخواهد کرد؛ ولی آهسته آهسته این زمزمه ها راست ثابت میشد که رئیس جمهور به کسی نیاز دارد تا بر اجراآت سیزده ساله‌اش صحه بگذارد وبه اصطلاح سوخته ها را بدنبالش روشن نکنند که چنین کرده ای و چنان. متأسفانه برخی از دوستان چنان می اندیشند که... (ص، ۳)

موضعگیری کمیساری عالی حقوق بشر سازمان ملل متحد در رابطه به تنش های موجود در خاور میانه

فروغگر

چندی قبل ناوی پیلای رئیس کمیساری حقوق بشر سازمان ملل متحد در نشست شورای امنیت این سازمان، شورای امنیت را متهم کرد که در پیوند به تنش های بین المللی بویژه خاورمیانه مرتکب اشتباهات بزرگ تاریخی شده است. وی در توضیحات خود گفت که کشورهای عضو شورای امنیت سازمان ملل بجای حل تنش های خاور میانه و حل درگیری های موجود در بیشتر کشورهای جهان بیشتر در جستجوی منافع خود دست و پا می زنند، وی در بخش دیگر سخنانش با تأسف اظهار داشت که امروز امبارهای کشته شده گان در عراق، سوریه و فلسطین محصول بی توجهی شورای امنیت است و با تاسف باید گفت که این شوری در عرصهٔ چندین سال نتوانست بحران شرق میانه را مهار کند و طوری که از نامش پیداست، درین قلمرو جغرافیای انسانی فضای صلح و امنیت را برقرار کند. اگر امروز زنان، کودکان و افراد ملکی در درگیری های خاورمیانه و یا کشورهای دیگر جهان کشته می شوند، شورای امنیت سازمان ملل متحد، مستقیماً، البته به نحوی از انحا درین جنایات بزرگ از تبرئه خود در پیشگاه تاریخ ما عاجز خواهد بود.

کمیساری بخش حقوق بشری سازمان ملل متحد پس از چندین دهه جنگ و خون ریزی در شرق میانه که یکی از برجسته ترین کشورهای عضو شورای امنیت در آن نقش ویران کنندهٔ جدی دارد، برای اولین بار است که ... (ص، ۲)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د روانو حالاتو پړه د چا پر غاړه ده؟

تولو هېوادوالو ته څرگنده ده چې گران هېواد د خپل تاریخ په حساسو او نازکو شرایطو کې قرار لري. ټول هېوادوال د غم او اندیښنو په ډنډ کې ډوب دي، د شپې خوب نه لري او د ورځې قرار، د هر چا له وچولي نه د خپگان او پریشانی نښې له ورایه ښکاري، سیاسي مشران پخپلو کې له یو بل سره لاس او گریوان دي، په دریځونو کې یې د اسمان او زمکې فرق دی، یو غنم وایي بل اوربشه، علمای کرام هم پخپلو مذهبي او عقیدوي اختلافونو کې غرق دي، قومي مشران او مخور اشخاص د دوه مخکښو نوماندانو له شاوخوا راټول دي، چې په راتلونکی حکومت کې خپلې گټې خوندي کړي، همداراز رسنی هم د بې طرفانه قضاوت پرځای د حالاتو د خرابولو او خړ پړولو په لټه کې دي او داسې مسائلو ته لمنه وهي چې حالات نور هم ترینگلی او مکدر کړي.

د هېوادوالو د امید سترگې مشرانو ته دي: مگر د مشرانو سترگې اسمان ته، اولس په خالي گېډه د تږې په څېر اوس هم هر ډول سرښندنو ته چمتو دی: خو مشران په مړه گېډه د خپل اولس د خوښی په خاطر لږ تر لږه پر خپلو شخصي غوښتنو هم پښې نشي اېښودلای، اولس د خپل ایماني او ملي مسؤولیت له مخې په ډېرو سختو شرایطو کې د رأیو صندوقونو ته ورغلل او د یو منتخب حکومت د قیام په موخه یې خپلې رأیې استعمالې کړې؛ مگر سیاسي مشرانو د اولس رأیو ته د احترام پرځای درغلیو ته لاره هواره کړه، په ډبټو، غرونو او ځنگلونو کې یې په جعلي رأیو صندوقونه ډک کړل، د ارگ له لوړ پوړو چارواکو نه نیولې د ټاکنو تر خپلواک کمیسیون پورې یې د درغلی بازار گرم کړ. د رأیو اخستلو او تجارت لپاره یې لکونه ډالره رشوت ورکړ، ان تر دې چې قومي، ژبني، سمتي او مذهبي تعصبونو ته د لمنې له وهلو څخه یې هم ډډه ونکړه. د مشرانو د همدغو غټو گناهونو له کبله اوس هېواد د تباهی د کندې پر غاړه ولاړ دی. پوښتنه داده چې دغه حالت ته به د حل ټکي څوک پیدا کوي؟ ددغو ټولو معضلاتو د حل کیلي له چاسره ده؟ د چا پر قربانی او تیریدنه دغه ستونزې له منځه تللای شي؟ ځواب یې څرگند دی هر څوک چې ددغې لوبې اصلي لوبغاړي دي، ددې د ختمولو واک هم د همدوی په لاسو کې دی، که دوی وغواړي په یو ساعت کې دغه بوگنوونکي سیاسي ویجاړی د خوشالی په پسرلي بدلولای شي؛ ددې لپاره نه د سرونو قربانی ته اړتیا شته او نه هم میلیاردو ډالر تاوان ته؛ بلکې د څو تنو سیاسي شخصیتونو د نفسونو د قربانی او د هېواد او اولس د مجموعي گټو ته د لومړیتوب ورکولو ایثار ته اړتیا ده؛ نو ځکه د سیاسي ډگر سیاسي مشرانو ته پکار دي چې لږ غوندې خپلو ځانو ته هم نظر وکړي او له خپل ضمیر نه پوښتنه وکړي چې د مشرتابه دا مقام یې دچا په قربانی ترلاسه کړی، ایا پخپله پیدایښي مشران دي او که د چا په ملاتړ او مرسته مشران شوي دي؟ که چیرته اولس له دوی نه خپل ملاتړ بیرته واخلي او په خوشې ډاک کې یواځې پریږدي په خوله به یې څوک پیاز هم وخوري؟ څرگنده خبره ده اولس چې څوک مسترد کړی هغه بیا کله هم پخپلو پښو نه دی ولاړ او د ذلت کندی ته غورځیدلی دی. ښه به دا وي چې سیاسي مشران د خپل اولس احسان ومني، څنگه چې هغوی د احترام په سترگو ورته کتلي له هغه نه زیات دی د عزت او وقار په سترگو ورته وگوري، گټو ته یې لومړیتوب ورکړي، هوسا او آرام ژوند یې په نظر کې ونیسي او پر خپلو نفساني غوښتنو پښې کېږدي؛ ځکه چې مشري هسې یو بې مفهومه نوم نه دی؛ بلکې د یو لړ مسؤولیتونو نوم دی، د مشرانو اساسي کار د ورانیو ویجاړیو ختمول او پرځای یې سمون راوستل دي، دا چې له ټاکنو وروسته ورانی ویجاړی ارگ ناستو او نورو خودغرضو سیاستوالو پیدا کړی؛ نو ددې له منځه وړل هم ددوی پر غاړه دی. هیله ده چې د ارگ ناستو په شمول ټول مشران خپل اساسي مسؤولیت وپیژني او ژر تر ژره خپل اولس ته د خپلو خدمتونو په وړاندې کولو سره یوځل بیا پخپل اولس کې د سیاست کولو طلایي چانس ترلاسه کړي؛ که نه نو په اولس کې به د پښو اېښودلو ځای نه لري هر څوک به په کرکه ورته گوري او د تاریخ په پاڼو کې به په بد نوم یادېږي.

کره نصرالله

د اسلامي او جهادي گوندونو د بري راز

زموږ په هېواد کې اسلامي او جهادي گوندونه هم له یو درجن څخه زیات دي او ناسیونالست، سیکولر او د پخوانیو کمونستانو بقایا هم، د غیر اسلامي گوندونو څخه خو شکایت ځکه نلرو، چې کله یو څوک د اسلام د سپیڅلي دین له عقیدې او قانون پرته بله عقیده او قانون خپلوي، له هغوی نه د اسلامي او اخلاقي کړنو تمه کول لیونتوب دی؛ خو هغه مشران چې د اسلامي نظام د حاکمیت ادعا کوي او ان تر دې چې یو ډول فکر او عقیده هم لري هغو ته دا گوته نیول کېږي چې هغوی په کوم شرعي دلیل په څو ډلو ټپلو ویشل شوي دي؟ او ولې د یو منسجم فعالیت پرځای جلا جلا فعالیتونه کوي؟ آخر دهغوی پر وړاندې داسې کوم شرعي موانع او خنډونه موجود دي چې د منسجم حرکت پرځای متفرق فعالیتونه کوي او د یو بل پرخلاف دریځونه نیسي؟ که اولس په دې خاطر چې دا ټول اسلامي گوندونه د اسلامي عقیدې د خپراوی لپاره کار کوي ورسره ملگرتیا کوي دا نو دهغوی له خپل دین او عقیدې سره د مینې او اخلاقو څرگندونه کوي چې دهغوی خبرو ته غوږ نیسي؛ مگر دا چې مشران په ملي او بین المللي مسائلو کې جلا جلا دریځونه خپلوي، په ټاکنو کې د یو نوماند پرځای څو څو نوماندان وړاندې کوي او یا هم ځینې د یو نوماند او ځینې د بل نوماند ملاتړ کوي دا نو د افغانستان د مسلمان ولس له زغم نه وتلی کار دی او دا پوښتنه بې مخې ته ودرېږي چې که دغه د اسلامي گوندونو مشران واقعاً په هېواد کې اسلامي حکومت او اسلامي قانون غواړي بیا د خپلو بې اتفاقیو او اختلافاتو په نتیجه کې د بري چانس ولې پخپل لوی لاس له لاسه ورکوي او هغو گوندونو ته ولې د بري فضا مساعدوي چې په افغانستان کې د سیکولرستي نظام د پیاده کولو پروگرام پرمخ بیایي؟!

موږ هر یو پوهېږو چې په هېواد کې اسلامي نظام او اسلامي حکومت په تشو شعارونو او مرامنامو نه راځي؛ بلکې دې لپاره منظم هر اړخیز فعالیت پکار دی، پدې کې هیڅ شک نشته چې د افغانستان مطلق اکثریت وگړي د تېر په څېر اوس هم پخپل هېواد کې اسلامي حکومت او اسلامي نظام غوښتونکي دي او بل هیڅ نظام سره نه شوق لري او نه علاقه؛ بلکې په مطلق ډول ورسره حساسیت لري، دا چې په هېواد کې ددوی ارمان نه ترسره کېږي او په مسلسل ډول له ستونزو سره لاس او گریوان دي، ددې ټولو مسؤولیت د همدغو مشرانو پر غاړه دی؛ ځکه چې د گڼو گوندونو جوړول او په متفرق ډول غونډې او محفلونه دائرول د مسلمانانو د ځواک د له منځه وړلو پرته بل هیڅ گټه نلري.

هغه مشران چې مسلمانان د یووالي پرځای په گڼو ډلو ټپلو ویشي او بیا د غونډو په دائرولو سره د اسلامي حکومت او اسلامي قانون د راوستو جذباتي ویناوې کوي او فکر کوي چې په دې قلقله یې خبرو سره یې خپل اسلامي رسالت ترسره کړی، له خپل خدای او ولس سره دوکه کوي، ددوی دا کړنه نه د الله جل جلاله په وړاندې مقبوله ده او نه هم د اولس په وړاندې، دوی دی دا واقعیت ومني چې کله هم دوی د ستېج له سر نه د یو اسلامي گوند د مشر په توگه د اسلام او مسلمانانو د برلاسی خبرې کوي، خلک دهغوی په دې خبرو خندا کوي او پخپلو کې یو بل ته وایي چې که دغه مشران واقعاً په هېواد کې اسلامي حکومت او اسلامي نظام غواړي؛ نو لاره یې دا نه ده چې دهغو غیر اسلامي سیکولرستي ډلو تر شا ودرېږي چې اصلاً له اسلام او مسلمانانو سره حساسیت لري. آخر دا څنگه ممکن کېدای شي چې اور او اوبه دې سره یوځای شي؟ مگر په ډېر افسوس سره موږ وینو چې ځانو ته د اسلامي گوند مشر ویلو باوجود له خپلې ږیرې پگړی او پکول سره دهغه چا د مدحې ترانې وایي چې پخپل ټول ژوند کې یې نه یواځې دا چې د اسلامي نهضت له غړو سره ناسته ولاړه نه ده کړی؛ بلکې د اسلام پرخلاف یې منظم فعالیت هم کړی، له همدې ځایه معلومېږي چې دا ډول اشخاص د اسلام له نوم نه د گټې په اوچتولو سره یواځې او یواځې د خپلو شخصي گټو په لټه کې دي چې نه یواځې له اسلام سره خیانت کوي؛ بلکې د هېواد امنیت او سلامتیا هم په خطر کې اچوي. ددغه ځورونکي حالت ته په پام سره د اسلامي گوندونو ټولو خواخوږو او متعهدو ورونو ته پکار دي چې نور غلي پاتې نشي او هغو موقع پرستو کسانو ته فرصت په لاس ورنکړي چې د اسلامي گوندونو مخکښو مشرانو تر عنوان لاندې خپل شوم اهداف پرمخ وړي.

تاریخ گواه دی چې افغانستان ته د روسي امپراطوری له اشغال څخه یواځې د اسلامي تنظیمونو مجاهدینو نجات ورکړی او دا افتخار همدوی ته حاصل دی چې د خپلو لکونو ککریو په نذرانه کولو سره یې خپل هېواد د پردیو له غلامی نه ازاد کړی دی. د تېرو څو لسیزو په اوږدو کې چې افغانستان له کومو ډول ډول کړاوونو سره مخامخ دی او فی الحال په یو داسې حالت کې قرار لري چې د نیم حلال شوي چرگ په څېر ترپېکې وهي که ددغه ځورونکی حالت پر اړه د جهادي تنظیمونو مشران خپل ایماني او ملي رسالت ادا نه کړي؛ نو افغانستان له یو داسې خطرناک حالت سره مخامخ کیدونکی دی چې افغانان یې نور د زغملو حوصله نه لري او دا قوي امکان هم تر سترگو کېږي چې هېواد د عراق په سرنوشت اخته شي.

له دې حالت نه د ژغورلو یواځینی قوت د مجاهدو تنظیمونو په لاسو کې دی: ځکه چې یو لوری د افغانستان د مطلق اکثریت وگړو ملاتړ له ځانه سره لري او بل لوري دوی کولای شي د یو سوچه عادلانه اسلامي حکومت پر جوړولو د افغانانو ټولې ستونزې ختم او هېوادوال د اتفاق په منظم صف کې ودروي، یواځې د جهادي تنظیمونو د یووالي په برکت کېدای شي هېواد د استحکام په لور گامونه اوچت کړي او ولس پخپلو کې د یو موټیتوب پر مټ ددی جوگه شي چې په یو غږ د هر ډول داخلي او بهرنیو ستونزو په وړاندې د دفاع پولادي دیوال جوړ کړي؛ نو ځکه د هېواد اکثریت وگړي په دې حساسو او نازکو شیبو کې له خپلو جهادي مشرانو څخه په جدي توگه غواړي چې نور خپل ټول بی اساسه اختلافات ختم، او ژر تر ژره د اتحاد او یووالی په صف کې ودرېږي؛ تر څو افغانان له موجوده ستونزو څخه خلاصون ترلاسه او جهادي تنظیمونو مشران خپلې هغه ژمنې ترسره کړي چې له لومړی ورځې نه یې د خپل رب او ولس په وړاندې کړی وې.

د جهادي مشرانو په وړاندې تر ټولو لوی ازمېښت اوسنی حالت دی او په دې ازمېښت کې تاریخي بریالیتوب د ترلاسه کولو یواځینی فرصت هم همدا اوس دی، که دا طلایي فرصت له لاسه ورکړي او خپل مسؤولیت ترسره نکړي، نه به یې الله وبخښي او نه هم تاریخ، او ددوی ددغه غفلت په نتیجه کې چې افغانستان له کوم ناوړه برخلیک سره اخته کېږي او د لکونو شهیدانو وینې هدر ځي ددې ټولو ملامتې به ددوی په غاړه وي. ښه به دا وي چې جهادي مشران نور د غفلت له خوبه بیدار شي او خپل بایللی اعتبار د بیا ترلاسه کولو او پخپل ولس کې د محبوبیت د پیدا کولو په خاطر لږ تر لږه خپل نفسونه قربان او هېواد د هلاکت له اوسنی گرداب څخه راوباسي؛ ځکه چې مشر تر هغه د مشری ویاړ نشي ترلاسه کولای؛ چې د اولس او هېواد په وړاندې یې خپل اهلیت نه وي ثابت کړی، په قانوني او تاریخي لحاظ هغه څوک د مشری په لست کې لیکل کېږي چې خپل اولس، هېواد او عقیدې ته نه هېرېدونکي خدمتونه وکړي، خپل هر څه قربان کړي؛ خو هېواد د ستونزو او بحرانونو څخه وباسي، پخپله هیڅ امتیاز ونه غواړي؛ مگر هېوادوالو ته د سعادت ژوند د تیرولو زمینه برابر کړي.

موضعگیری کمیساری عالی حقوق ...

(ادامه از صفحه اول)

... به جنایات کشورهای عضو شورای امنیت سازمان ملل لب می کشاید و صدای اعتراض خود را علیه این سازمان بلند می کند.

در دو دههٔ گذشته و یا دو دهه و اندی جهانیان شاهد قتل عام ها و کشتار جمعی و یا به اصطلاح مدرن «جینوسای» نیروهای هوایی و زمینی امریکا در عراق، صومالیا، لیبیا و سودان بودند و در عرصهٔ چندین سال خون ده ها هزار انسان مظلوم را در واکنش به موانع اشباع حرص جهانگیری و منافع منحصر به کشور خود بر زمین ریختند و شرق میانه را یکسره به خاک و خون کشیدند که به گزارش سرویس های خبری و وسایل ارتباط جمعی دیگر، امریکا تنها در حملهٔ اول خود بر عراق یکصد هزار انسان آن سرزمین را به کام مرگ سپرد، در مراکش، الجزایر، یمن و کشورهای دیگر منطقه طی کودتاهای نظامی موجب قتل عام مردم آن کشورها شد، اما کمیساری بخش حقوق بشری سازمان ملل متحد و در مجموع سازمان ملل متحد به شمول شورای امنیت تماشاگر خموش این همه جنایات بود و حرفی نیز در تقبیح این تراژیدی گستردهٔ بشری نگفته و نه به خود زحمت داد که اقلاً راه حل این بحران ها را تدارک کند.

به دنبال این همه تنش ها که هنوز هم از بدنهٔ جغرافیای انسانی عراق، سوریه، فلسطین و کشورهای دیگر جزیرة العرب خون می چکد و به تازه گی از پناهنده گی میلیون ها آسیب دیده گان جنگ گزارش می شود، با ظهور غیر منتظره «داعش – دولت اسلامی عراق و شام» (اکنون دولت اسلامی) سازمان ملل به عنوان پشتیبانی از یک اکثریت مذهبی سرزمین های آسیب دیدهٔ جنگ به دفاع بر می خیزد و دولت اسلامی را به جنوسای در منطقه متهم می کند؛ در حالی که به شهادت تاریخ از شش دهه به این سو «اسرائیل غاصب» به شمول کشورهای عضو شورای امنیت نخست از طریق کمک های تسلیحاتی و سپس مستقیماً داخل شدن در میدان نبرد به نفع اسرائیل ملت فلسطین را از سرزمین ابایی شان به اوارگی کشاندند و برای اولین بار بود که سازمان ملل متحد اسرائیل را بحیث یک کشور نوپای جهانی به رسمیت شناخت، وقایع جینوسای صبرا و شتیلا که ضمن آن به یک گزارش هشت هزار و به گزارش دیگر ۸۰۰ فلسطینی از سوی عساکر اسرائیلی در یک روز کشته شدند و تا حال اسرائیل جنایتکار خون صدها هزار فلسطینی را ریخته است؛ اما علی الرغم این همه جنایات گستردهٔ بشری، اسرائیل، امریکا و کشورهای عضو شورای امنیت از اسرائیل دفاع می کنند.

همین اکنون در ظرف نزدیک به دو ماه طیاره های جنگی اسرائیل طی هزاران پرواز نوار غزه را هدف قرار میدهند و در کنار کشتن نزدیک به ۲۰۰۰ فلسطینی ده هزار تن دیگر آنها را زخمی می کنند؛ اما سازمان ملل متحد بجای این که طرف مظلوم را بگیرد از اسرائیل دفاع می کند و هم چنان در افغانستان، می بینیم که هر روز به ده ها هموطن ما در سوگ عزیزان خود بر گلیم غم می نشینند و جرمی هم به جز مسلمانی ندارند، تمام تروریست های منطقه و جهان به پشتیبانی اقتصادی و تسلیحاتی همسایه های ما وارد خاک ما شده اند، از یک سو امنیت کلی کشور را اخلال می کنند و از سوی دیگر هم می کوشند که انتخابات سال جاری با شکست مواجه شود و افغانستان شاهد یک حکومت نیرومند نباشد؛ اما سازمان ملل متحد از این همه خونریزی ها بویژه درین سوی خط دیورند و مناطقی که در مضافات این سوی خط موقعیت دارند، یک حرف نیز نمی گوید که دال بر حقیقت باشد، قرار گزارشهای وزارت داخله و دفاع کشور امروز (۱۶۰) گروه تروریستی در کشور ما فعالیت دارند و همسایگان ما تنها درین دو ماه اخیر به هدف سبوتاژ انتخابات (۴۰۰۰) راکت را بر ولایات نزدیک به خط دیورند پر تاب کرده اند؛ اما سازمان ملل، ناتو و امریکا می گوید: «ما این ماجری را تصدیق نمی کنیم، کشورهای متجاوز خود در معرض خطر تروریزم قرار دارند!!»

حال بیایید به قضاوت بنشینیم و به تحلیل اوضاع سه دهۀ گذشته بنشینیم ایا این دست امریکا و روس نبود که کشور ما را به حمام خون تبدیل کرد و حال در پروسه انتخابات ما تا سرحدی بی شرمانه می کوشند که این انتخابات را با شکست مواجه کنند؟!

متأسفانه دانشمندان، علما، استادان، شورای ملی و دولتمردان دلسوزی که دل شان بر حال زار ملت ما بسوزد جزئیترین واکنش درین رابطه از خود نشان نمی دهند، چه رسد به این که قرار اسناد امضا شدهٔ استراتیژیک با امریکا و کشورهای متحدینش، باید این قوای بین المللی از افغانستان به دفاع برخیزند و علاوه از سرکوب دشمنان ما سرزمین های تصرف شدهٔ ما از سوی دشمن ما دوباره به ملت ما تحویل دهند.

جوانان مسلمانی که بواسطه دشمنان اسلام به شهادت رسیدند

شهید احمدشاه ((مسلمیار))

شهید عبدالرحمن

شهید نور محمد

احمدشاه «مسلمیار» فرزند عبدالرزاق که در سال ۱۳۶۹ هـ در قریه مساو ولسوالی پشت رود ولایت فراه چشم به جهان گشود، دورهٔ ابتدائیه و لیسهٔ خود را در لیسهٔ ملا محمدیعقوب (فراهی) بپایان رسانید. بعد از فراغت صنف دوازدهم شامل انستیتیوت طبی صحت عامه ولایت گردد. این جوان با استعداد و هدفمند که تلاش پیگیر بخاطر اعادهٔ صلح و ثبات در کشورش داشت، تا صنف سوم انستیتیوت مذکور تحصیلات خود را با لیاقت و فهم رسا ادامه داد. جوان مسلمان و خدا دوست و علم پرور بود که علاقه مفرط به مردم و وطنش داشت، بدبختانه زمانیکه میخواست با رفقایش از انستیتوت طبی بطرف خانه اش برود در جریان راه شهر فراه توسط عمال و نوکران اجنبی یوم سه شنبه بتاریخ ۴ / ۶ / ۱۳۹۳ به شهادت رسید.

شهید عبدالرحمن فرزند عبدالوهاب جوان دیگری که همسفر با شهید احمدشاه (مسلمیار) که در سال ۱۳۶۲ در قریه مساو ولسوالی پشت رود بدنیا آمده بود. اینهم همچو احمدشاه تعلیمات ابتدائی خود را در مکتب یاد شده تعقیب نموده و بدون اینکه از مزایایی دوران جوانی مستفید شود، از طرف مخالفین وطن و اسلام در مسیر راه شهر فراه یکجا با دوتن از رفقایش احمدشاه و نورمحمد بشهادت رسید.

شهید نور محمد فرزند لعل محمد که هم قریه با دو شهید یاد شده بود، در سال ۱۳۵۲ تولد گردید، مردی بود که با قامت رسا و پشت کار مستمر در برابر هیچ دشمن زبون قد خم نکرد و در دوران جهاد مقدس افغانستان منحیث یک مجاهد وظیفه ایمانی اش را انجام داد. مرد صبور با دیانت و خداپرست بود، که بالاخره بواسطه دشمنان صلح و ثبات افغانستان بروز سه شنبه تاریخ ۴ / ۶ / ۱۳۹۳ در مسیر راه یاد شده با دو نفر دوستانش که ذکر گردید یکجا شهید جام شهادت را نوشیدند.

خداوند جای شانرا بهشت برین و بازماندگان شان را صبر جمیل اعطا بفرماید.

احمد خالد فیاض

جوانان نقش اساسی در آینده کشور دارند

یک کتله عظیم از نفوس افغانستان را جوانان تشکیل می دهند، اینها در بخش های مختلف مصروف کار اند، عدهٔ زیادی از جوانان در مؤسسات تحصیلی مصروف فراگرفتن علم اند، بخش دیگری در کارهای روزمرهٔ زندگی فعالیت دارند.

نیروی سرشار و مملو از نشاط جوانان یکی از ذخایر بیش قیمت جامعه است، عدم توجه و کم بینی این ذخایر بیش قیمت، عواقب ناگوار و پیامد بد دارد؛ زیرا بی توجهی دریںمورد سبب میگردد تا این نیروی سرشار بدون استفادهٔ درست، بی کیفیت شده رایگان از دست برود.

انسان مکلفیت دارد تا از هر نیرو بهره برداری درست نماید. نیروهای مادی و معنوی موجود جامعه در حل مشکلات و جلب آسایش ها، به حیث عوامل کاری و مفید اهمیت دارند؛ مگر در محیط زیست ما توجه جدی و همگانی به کارگیری از نیروی مادی وجود دارد، هر کس می کوشد تا ازین نیرو مطابق به مزاج و سلیقهٔ خود استفاده کند؛ اما در استفاده کردن از نیروی معنوی ارزش ها کمتر در نظر گرفته شده توجه همگانی و قابل ملاحظه صورت نمیگیرد، در حالیکه در یک اجتماع اسلامی برای زنده نگهداشتن شعایر اسلامی و راه اندازی برای حاکمیت اسلام، نیروی معنوی و بهره برداری از آن نقش اساسی و تعیین کننده دارد.

باوجود آنکه همه توجه دارند تا از نیروی مادی استفاده شده به مادیات خود را نیازمند می دانند؛ ولی در تشخیص نیروهای مربوط به مادی هم ناتوانی هایی وجود دارد، اکثر مردم تا هنوز نفهمیده اند که ماده تنها منحصر به پول و سرمایه و ملکیت های منقول و غیرمنقول جوامع نیست و این واژه دربر گیرنده جسم مادی انسان هم میگردد و در جسم مادی انسان نیروی سرشاری وجود دارد، شاید تا یک حد هر انسان تنها در رابطه به خودچنین فکری را کرده باشد واز نیروی جسمی استفادهٔ خوب یابهره‌برداری ناجایز نماید؛ اما در مورد نیروی مادی جوانان به حیث یک قوت اصلی و تعیین کننده سرنوشت اجتماع، دقت صورت نگرفته، روی یک برنامهٔ دقیق اسلامی و اصلاحی از آن بهره برداری نشده است.

درین مقاله اهمیت همین موضوع مختصراً بیان می شود و از بزرگان و پیشوایان دینی و دعوتگران دلسوز و راستین خواسته میشود که درین بخش توجه جدی نمایند و برای رهایی و نجات از بدبختی های موجود، تصامیم و برنامه های علمی درستی را در دست گرفته در رشد معنویات جوانان بکوشند و تلاش نمایند تا از نیروی سرشار و عظیم جوانان برای حاکمیت اسلام استفاده کنند.

باید بزرگان کشور ما بدانند که خواهران و برادران جوان در یک فضای تاریک و بی هدف حرکت می کنند، پوهنتون های زیادی فعالیت دارند، خواهران و برادران ما در همین پوهنتون ها، در درس و تحصیل رفت و آمد می کنند، کتاب، کتابچه، قلم و چپتر به دست یا زیربغل دارند به تحصیل خود می بالند؛ اما در شناخت عمیق و اصلی حکمت های زندگی، مسؤولیت های اسلامی و آیندهٔ کشور و فضای گردآلود جامعه، بی علم و بی برنامه اند، از افتخارات اجداد و سلف صالح شان ناآگاه و برای حفظ این افتخارات بی مسؤولیت اند. شناخت مسؤولیت و ادای آن یک پدیدهٔ کاملاً ناآشنا به نظر شان معلوم می شود، برای رشد و ارتقای معنوی و کسب ارزش ها نامانوس اند، به اسلام کمتر آشنایی دارند، نمی فهمند که ما کدام نوع زندگی، فرهنگ و کلتور را اختیار کنیم تا خدمتگاران اصلی اسلام و جامعهٔ خود قرار گرفته روش پسندیدهٔ اجداد مان را زنده سازیم.

اکثر جوانان ملامت نیستند، آنها به تربیت و توجیه ضرورت دارند، اگر به تربیه و توجیه آنها برنامه های عملی وجود داشته باشد، حتماً تعداد زیاد آنها برعلاوهٔ آنکه پرزه های کاری دعوت و مبارزهٔ اسلامی میگردند، می توانند که در پیشبرد فعالیت های بزرگان، همگام با آنها در پهلوی شان بازوی قوی و نیرومند قرار گیرند و به این ترتیب در تنظیم و انسجام دیگران، گروپ های مؤثر کاری به وجود آیند و به زودترین فرصت انقلاب فکری و فرهنگی صورت گیرد و راه اشخاص بی بندو بار و جرائیم اخلاقی بسته گردد، آهسته آهسته فضای تیره و تاریک با تابش اشعه های نور دعوت و مبارزه روشن تر شده، امراض مهلک و بیماری های خطرناک در اجتماع ما کمتر شود.

کار در میان جوانان و راهنمایی سالم آنها در مسیر زندگی، همکاری با والدین و متولیان امور است؛ زیرا نتایج مثبت و نقاط ارزندهٔ این اقدام، خانواده ها را از مشکلات می رهاند، بی بندو باری های اجتماع را کم میسازد، تهذیب و اخلاق را رشد می دهد، عناد و حسادت ها را از بین برده اخوت و صمیمیت ها را می افزاید، جلو بدکاری ها گرفته شده، ارزش اصلی انسانیت در اجتماع تبارز و احترام متقابل و سلوک پسندیده حکومت می کند و ده ها خوبی های دیگری به اجتماع راه یافته، بدنهٔ حاکمیت اسلام قوی تر شده، کشیده‌گی ها از بین می رود، احساس انسان دوستی تقویه شده، رقابت های منفی و ناسالم به تنافس و هم چشمی های مفید و سازنده تبدیل میشود، آهسته آهسته مردم به اهمیت قانون شرعی پی می برند و از تطبیق آن لذت می برند.

چرا در صدر اسلام مردم از بدی ها نفرت داشتند و با تخطی از دساتیر شرعی نزد پیامبر (صلی الله علیه وسلم) می آمدند و درخواست می کردند تا حکم شرعی برآنها تطبیق شود تا از عذاب آخرت در امان باقی مانده، ناآرامی های درونی شان دور گردد، در حالیکه درین زمان مردم از تطبیق قوانین شانه خالی می کنند و گریز از قانون و وساطت درین بخش را کمال تصور می نمایند و در غفلت زندگی دارند؟

نقطهٔ اساسی این تفاوت ها در چگونگی تربیت است ما در جایی زندگی می کنیم که تربیت سالم وجود ندارد به معنویات و ارتقای آن توجه صورت نمی گیرد، همه چیز را به زبان خلاصه کرده روش اصلی تربیت درک نشده است، در رقابت های ناسالم و حسادت ها شب و روز را سپری می کنند، تحقیر مسلمان سبب عزت و وقار دانسته میشود توجه به نفس کمتر دیده می شود، خوبی ها و بدی ها در ترازوی برداشت ها و تحلیل های نفسانی وزن میگردد، این حالت دردناک بزرگان، دانشمندان و دعوتگران را از جوانان دور ساخته، آنها را آزاد گذاشته اند تا بر میل و خواهش شان هر راه و سلوکی را که خواسته باشند اختیار کنند و در انجام دادن هر عمل، دست باز داشته باشند.

این حالت تأسف انگیز، برعلاوه آنکه عده از مردم را از مسیر اصلی دور نگهداشته است قانون را هم در اذهان منفور ساخته راه را برای بدی ها باز کرده است، برای تعویض و تبدیل این حالت دردناک، توجه به تربیت یکی از عوامل مؤثری است که باید به نسل جوان توجه جدی شده، گذاشته نشوند تا آنها در مسیر دیگری داخل شوند و فضای اختناق و بی بندو باری ها را دوام داده کشور را بحرانی تر سازند و راه نفوذ بیگانگان را باز گذاشته ملت مسلمان افغان محکوم، ذلیل و دشمن یکدیگر باشند.

مړه يې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

یادی از مستری سید احمد شهید

بازهم به یاد یکی از قهرمانان حزب اسلامی افغانستان میرویم ،قهرمانیکه همه چیزش را وقف جهاد در راه خدا کرده بود! آری این شهید در یکی از نشیبی های شمال کوهپایه های مرد خیز هندوکش چشم به جهان گشود. زاده گاهش قریه جویکلان ولسوالی نهرین ولایت بغلان والد محترمش مرزاحبیب نام یکی از چهره های متنفذ در منطقه بود. این شهید راه حق به اثر غربت فامیل وعدم موجودیت شرایط مساعد ،روانه مکتب ومدرسه ای نشد، مگر با آن هم فضای تدین خانواده ویرا متدین، با تقوی وبا تربیه بار آورد.

وقتیکه شخص امی ای چون مستری شجاعت ایمان ، امانت داری وتقوی در نظر انسان خطور میکند، انسان به یاد مسلمانهای صدر اسلام می افتد که اکثراً بدون آنکه به تعلیم وتحصیل علوم پرداخته باشند.نمونه وپارچه از انسانهای تمام عیار بقرآن وسنت پیامبر(ص) بودند.اینجاست که تربیه اسلامی نیز از انسان آدم میسازد واین توانایی در اسلام وجود دارد که فیض نور وهدایتش را در قلب انسانهای بی سوادلامع گرداند وبعد به او جهت، هدف و اندیشه را عرضه نمایدتا بر اساس آن برای حصول رضای خدا (ج) تلاش کند ودر هم بکوبد هر آنچه را که دشمنی با خدا (ج) دارد. مستری شهید پیش ازسال ۱۳۵۳با برادران حزب اسلامی همنوا بود ، برای شرکت در عملیات سال ۱۳۵۴ پنجشیر با وجود آن که شرکت نموده بود از چهره های ممتاز بشمار میرفت. بعد از آنکه عملیات مذکور توسط رژیم داود ،بصورت ناجوان مردانه سرکوب شد عدهٔ شهید،عدهٔ مجروح و زندانی و عدهٔ هم از وطن آواره و مهاجر ساخت. مستری سیداحمد توانست تا خود را از چنگال سفاکان دستگاه داود نجات بدهد. شهید سید احمد بعد از آن واقعه در شهر کندز ورکشاپ باز کرد و در تمام این مدت در خدمت برادران مسلمان قرار داشت و در فعالیت های حزبی سهم فعال داشت. با به میان آمدن رژیم وابسته وکمونیست تره کی برای مدتی را راهی زندان گردید وبعد از رهایی ، عرصه زنده گی را در وطن بر خود تنگ دیده به دیار هجرت شتافت. در اوایل سال ۱۳۵۵ غرض تنظیم غندمبارز زابل به آن صوب رفت وبعد از انجام وظیفه از راه بامیان به علاقه داری تاله وبرفک داخل شده ودر میان مردم به تبلیغ علیه رژیم پرداخت و در شوراالدن مردمان آن منطقه رول بارزی بازی کرد. آهنگ جهاد را در آن سامان براه انداخت. بعد ازمدتی وارد زادگاهش (نهرین) شد تا مردم منطقه را از خواب گران بیدار واز آمدن اژدهای خون خوار کمونیزم هشدار دهد همزمان با این که قومانداني جبهات حزب اسلامی سمت شمال را به عهده داشت نقش اساسی را در دعوت و تنظیم برادران اندراب بازی کرد. مستری سید احمد در میان مجاهدین چهرهٔ درخشنده بود در بسط واستحکام جبهه در پهلوی سایر همرزمانش،اهتمام زیاد بخرج داد.شجاعت مستری بعد از تشکیل جبهه و در گیری مسلحانه مستقیم با روسها به الگوی شجاعت لقب تبدیل گردیده بود در میدان جهاد حماسه آفرین بود،از هجوم تانک ،توپ وطیاره دشمن هرآس نداشت واکثر اوقات یک سنگرمهم را به تنهایی وموفقانه اداره و رهبری میکرد.پس از فتح ولسوالی اندراب سید احمد شهید به دستور امارت جهاد مامور تنظیم وتسلیم فرقه نهرین شد. او از قبل در میان سربازان وافسران فرقه نفوذ وارتباط و زمینه را برای قیام فراهم ساخته بود. مستری به همراه همسنگران خود با انداختن اندک شور و هلهله در داخل گارنیزیون فرقه را به مجاهدین تسلیم نمود وبه هزارها میل سلاح دشمن به دست مجاهدین افتاد.

مستری شهید بعداز آزاد ساختن ولسوالی نهرین تصمیم گرفت تا ساحه فعالیتها را به مناطق همجوارگسترش دهد زیرا او با احساس اسلامی که داشت جهت قیام مردم در برابر الحاد و کمونیزم بسوی ولایت کندز عزیمت کرد.

وی در کندز طی عملیات متعدد چریکی چندین تن ازملحدین را روانه جهنم کرد. با شهامت بی نظیری بالای محبس آن ولایت حمله برده و دروازه آن را به روی زندانیان مسلمان گشود که از آن جمله می توان از برادران چون مولوی صاحب عجب گل ،قاریصاحب فدایی مرحوم ،انجنیر عثمان وغیره را نام برد او جبهه ومنطقه خاصی نداشت،هر جبهه جبهه او وهر منطقه وطنش بود، بدون تبعیض میرزمید. مستری سید احمد در ماه سرطان جهت فاتحه خوانی برادران شهیدش به بغلان رفت ودر همان شب به اثر دسیسه عدهٔ عناصر از خدا بیخبر ،اجیر وحسود با پرتاب گرنیت شدیداً زخمی وبه ساعت ۲ بعد از ظهر روز مذکور به ندای شهادت که والاترین آرمانش بود لبیک گفت مستری شهید شد.مگر با شهادت او همسنگرانش دیگر آن رزمنده گی وخروشنده گی را نداشتند. اوصاف که در وجود مجاهد شهید مستری سید احمد وجود داشت، در دیگران کمتر دیده میشد . هنگامیکه آوازه شهادت مستری در منطقه طنین انداز شد دوستان واهالی اطراف عزا گرفتند ودشمنان اسلام جشن.

مستری از میان مجاهدین همسنگرانش رحلت کرد اما بعد از ختم عزای او قهرمانان دیگری چون مستری بعرصه جهاد اسلامی تبارز کرد ند وراه او را ادامه میدهند.

(روحش شاد ویادش گرامی باد)

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مسترديږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

دیزاین خواجه وحیدالله | آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

دیگر، رحمی بحال ملت ...

(ادامه از صفحه اول)

... ریاست جمهوری آقای کرزی دنبالهٔ خلافت راشده بود و هر یک از اجراآتش را بحیث ادامهٔ سنت خلفای راشدین پذیرفت، در حالیکه حقیقت چنین نبود و نیست. بقول مولانا مودودی (رح) حتی حضرت معاویه (رض) اعتراف کرد که شرایط زمان من و زمان خلفای راشده با هم تفاوت دارد، بناءً از آن زمان که در حدود چهارده قرن از آن می گذرد شرایط دنیا تغییر فوق العاده می یابد، بدور نیست که از زمامداران سهواً یا عمداً خطا هایی صورت بگیرد و شرایطی هم طوعاً یا کرهاً بالایش تحمیل شود؛ ولی آنچه مهم است این است که زمامدار باید حد اقل به ملتش دروغ نگوید.

هنوز ثبت نام نامزدان ادامه داشت که کمیسیون شکایات نام چند تن از نامزدان را نسبت مشکلاتی که در اسناد شان موجود بود رد نمود؛ ولی «ارگ» با قهر و غضب حکم کرد که اسناد شان رد نشود، از همان لحظه معلوم شد که نه والله. حرف آنچنان که وعده شده نیست و شاید «ارگ» کاندیدای خود را داشته باشد. انتخابات دور اول را به چالش کشیدند و به دور دوم بردند، با آنکه تعدد نامزدان هم خود برای همین بود که آرا تقسیم شود و یک نامزد نتواند اکثریت آرا را از آن خود کند، به یک عده از نامزدان قبلاً تحت بهانه های مختلف وعده داده شده بود که خود را نامزد کند و ارگ او را یاری خواهد کرد، در حالی که همهٔ آنها را در نیمه راه گذاشت؛ زیرا هدف ارگ برآورده شده بود، تا حدی آرا تقسیم شد و باز هم که یک کاندیدا بیش از پنجاه در صد آرا را از آن خود کرد به نام تقلب از پایش گرفتند و به عقب کشیدند؛ ولی وقتی دور دوم آمد همه چیز معکوس شد و باز در جواب انتقادی گفتند: بلی! تقلب کردیم و خوب است که کردیم، بعد از اعلان نتایج دور دوم همان شعر که در دورهٔ ابتدائیه از استاد خود شنیده بودم به یادم آمد:

ترقی های عالم رو به بالاست
ما از بالا به پایین می ترقیم

۵۷ در صد آرای دور اول به ۴۵ درصد تقلیل داده شد و در دور دوم از ۴۵ در صد هم به ۴۳ در صد؛ ولی جناح دیگر که بخت خوابیده اش بیدار شد و ارگ، کمیسیون انتخابات و غالباً یوناما هم در کنارش قرار گرفت و ارگ سوگند یاد کرد که آن جناح دیگر را نگذارد داخل ارگ شود، چنان جست زد که ۳۱ در صد به بالاتر از ۵۶ درصد رسید در حالی که اکثریت نامزدان دور اول و قویترین نامزدان دور اول با آن جناح دیگر یکجا شده بود. راستی همان حرف کُردکی راست برآمد: وقتی سال گرم بیاید درختهای غیر مثمر هم به ثمر میآید.

دور دوم انتخابات، اختلافات را در پی داشت و این یک گپ طبیعی هم بود؛ زیرا یکی را از سر بام پایین انداخته بودند و دیگری را اتومات از صحن حویلی بر سر هجده منزله رسانیده بودند. نتیجهٔ اختلافات آن شد که آن آقایی که در بین نامزدان دور دوم انتخابات سال ۲۰۰۹ فیصله کرده بود، بار دیگر بنام وساطت به کابل تشریف آورد در یک لحظه فیصلهٔ شفاهی صورت گرفت. افراد ساده دلی چون نگارنده باور کردند که یخها رو بسوی ذوب شدن نهاد؛ زیرا ما که از سیاست روز چندان چیزی نمیدانیم فکرمیکنیم که اصل حرف همین است که در روی پرده است.

بنده بعد از این فیصله یعنی به فردای آن روز غالباً (۲۱ سرطان ۱۳۹۳) در بحث یک تلویزیونی از یکی از هموطن خود شنیدم که اشاره به ارگ یا روشنتر بگویم شخص رئیس جمهور داشت که اکنون هم سرنخ در دست اوست اگر بخواهد این جریان را می تواند اخلال کند.

من که صحنه های انتخابات ۲۰۰۹ فرا چشمم قرار داشت با آنکه شکی در دلم ایجاد شد؛ ولی باور نمیکردم که ارگ بتواند در برابر ولی نعمت خود موقف بگیرد؛ زیرا از کنفرانس اول بن (۲۰۰۱) در کنارش قرار داشت. گاهی میگفتم که در پس پرده شاید برنامه یکی باشد، و بقول حافظ ((تو پس پرده چه دانی که کی خوب است وُ کی زشت)).

کمیسیون مستقل انتخابات بتاریخهای (۸) و (۹)/ ۶ / ۱۳۹۳ اعلان کردند که تا پنج روز دیگر نتایج انتخابات را ولو که یک نامزد نپذیرد هم، اعلام خواهند کرد. این در زمانی است که جان کیری بار دوم به کابل آمد و توافقات تحریری را بالای هر دو نامزد اعلان کرد که شامل بخشهای تخنیکی و سیاسی میشد. براساس توافق بخش تخنیکی شامل شمارش مجدد کل آرا میشد؛ ولی براساس شکایت تیم اصلاحات و همگرایی ملاحظات این تیم در شمارش و ابطال آرا درنظر گرفته نشد، پس در صورتی که رأی پاک از ناپاک جدا نشود نیازی به شمارش مجدد آرا نیست، به همین اساس این تیم رابطهٔ خود را با کمیسیون انتخابات و حضور در شمارش و تفتیش آرا را قطع نمود، و کمیسیون انتخابات و دفتر یوناما فرصت را مغتنم شمرد و به تیم تحول و تداوم هم گفت که پس شما هم در شمارش و تفتیش آرا حضور نداشته باشید، ببینیم که این دو مرجع باز چه گلی را به آب میدهند، که حتمی است میدهند.

درین گیرو دار شنیدیم که رئیس جمهور بخشم آمده بتاریخ ۱۱ / ۶ / ۱۳۹۳ که امروز سه شنبه باشد ارگ را تخلیه خواهد کرد؛ ولی دیروز ۱۰ / ۶ / ۱۳۹۳ سخنگوی رئیس جمهور نمیدانم تصحیح یا تصریح کرد که تا تعیین رئیس جمهور جدید و انتقال قدرت رئیس جمهور به وظیفه اش ادامه خواهد داد، من تا هنوز هم نمیدانم که همای بخت بر سر چه کسی سایه خواهد افگند؛ ولی سناریویی را که به راه انداخته بودند اینکه ارگ به تنهایی این کار را کرده بود و یا قوتهای منطقوی و جهانی هم دستش را فشرده بود، ((خدای داند و ارگ داند و نداند کس)).

د عبدالرحمن بابا پر لیکه:

((زه دا هسې دیوانه و مجنون چا کړم
له رواجه له رسومه بیرون چا کړم))

پوښتنه

زه دايو «افغان» «تاجک» و «پښتون» چا کړم
پخپل وينو لړزند، تن و پرون چا کړم

«قوميت» د «اخوت» ځاى دى نيولى
سر پر لار د دښمنى او بيلتون چا کړم

زه د پاڼ پر سر ولاړ يمه حيران يم
چې هدف د يو ناولي شبخون چا کړم

په هر لور زما د بدې ورځې کيسې دي
دا د وينو او ويرونو مضمون چا کړم

چې مې خوله تشې خندا ته نه جوړيږي
په غمونو باندې سر جګرخون چا کړم

د غليم غشي له هر خوا راوريږي
د خپل عصر دومره خوار و زبون چا کړم

هره خوا تپه تياره ده بل څه نشته
دا محروم له يو رانه سباوون چا کړم

څو مې عقل سرته بيا نه دى راغلى
دا به وايم چې ذليل دګردون چا کړم

کلى پاتې شو فايضه دا څه چل دى
سر پر غرونو په رغونو هامون چا کړم

((فدامحمد فایض))

ولې واشنګټن د "تاپي" له پروژې څخه کلک ملاتړ کړی دی؟

نړیوالو ورځپاڼو د "تاپي" پروژې او د افغانستان، پاکستان او هند د سوداګریزو اړیکو په اړه مطالب خپاره کړي.

د Natural Gas Asia خپرونې په یوه مطلب کې د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د ترکمنستان د ګازو لیږدولو پروژې ته پاملرنه اړولې ده.

خپرونه د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د پخواني خاص استازي او د کوهن ګروپ کمپنۍ د مرستیال مارک ګروسمن له قوله لیکلي؛ چې وايي، دغه د او نیم ملیارد ډالرو پروژه کولای شي؛ د سیمې لپاره د سوداګرۍ او پانګوونې فرصتونه زیات کړي.

د ګروسمن په باور سیمه زښت زیات دغو فرصتونو ته اړتیالري.

د مطلب په دوام کې ګروسمن ویلي چې؛ خلورو واړوهیوادونو، افغانستان، پاکستان، هند او ترکمنستان او د اسیا پرمختیایي بانک د پروژې د بریالیتوب لپاره د ښو شرایطو په رامنځ ته کولو سره یوه ښه لاره مخ ته نیولې ده.

د خپرونې په وینا، مارک ګروسمن زیاته کړه چې؛ دغه پروژه به د افغانستان او پاکستان د اقتصادي او سیاسي اړیکو د ښه کیدو سبب شي.

د مطلب په دوام کې ویل شوي چې؛ د کابل او اسلام اباد ترمنځ د سوداګرۍ او ترورېزم پرسر کړکیچ زیات دی.

خو د ګروسمن په باور د "تاپي" پروژه به دواړو لورو ته د دې امکان برابر کړي چې؛ د اقتصادي اغیزمنې همکارۍ په چوکاټ کې لورو اهدافو ته ورسیږي.

د تاپي پروژه به همداشان د هند او پاکستان ترمنځ اړیکې پیاوړې کړي او د دواړو اټومي وسلې لرونکو هیوادونو ترمنځ به د جګړې خطر کم کړي.

مارک ګروسمن دغه راز وايي چې؛ د تاپي پروژه په افغانستان کې د ملي روغې جوړې له پروسې سره مرسته کولای شي؛ ځکه د دغې پروژې په عملي کیدو سره به د افغانستان د خلکو لپاره اقتصادي فرصتونه رامنځ ته شي او یوشمېر طالبان به تشویق کړي چې؛ د کارپیدا کولو په بدل کې وسله پرځمکه کښیږدي.

د مطلب په دوام کې ویل شوي چې؛ دا او ځینې نوردلایل دي چې؛ واشنګټن د دغې پروژې کلک ملاتړی دی.

که تر ۲۴ ساعتو پوري مو ...

د رایو له کره څېړنې پرته د ټاکنو پایلې اعلان کړي، خلک به یې پر وړاندې پاڅون وکړي او ویه یې نه منې، سانچارکي وویل، دوی د متعادل او متوازن حکومت د جوړېدو غوښتونکي دي؛ خو په سیاسي او تخنیکي پروسه کې ورسره لوییي کېږي.

هغه هیله وښوده، چې د رایو تفتیش باید د پاکو او ناپاکو رایو په جلا کیدو پای ته ورسیږي.

نوموړي له ملګرو ملتونو او سیال ټیم نه وغوښتل، چې په دې پروسې له سره کتنه وکړي او یوه با اعتباره سیاسي پروسه رامنځته کړي.

ده وویل، چې سیال ټیم باید په میرانه او صادقانه توګه ورسره د رایو د تفتیش پروسې ته دوام ورکړي.

سانجارکي په سیال ټیم له دې امله هم نیوکه وکړه، چې د اوسني حکومت برحاله وزیر ورسره د تحول او دوام ټیم په استازیتوب مذاکره کوي، چې دا یوه غیر قانوني کړنه ده.

په همدې حال کې د ټاکنو په خپلواک کمېسیون کې د اصلاحاتو او همپالنې ټیم د تخنیکي کمېټې مسوول ډاکټر بشیر فاروق وویل، چې کابو یو اشاریه پنځه میلیونه رایې د یوه یا دوو تنو له لورې ټېک مارک شوې او ریزلټ شیټونه یې لاسلیک شوي دي.

نوموړي زیاته کړه، چې د دوی د څېړنو له مخې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د غبرګولي له ۲۴ مې وړاندې دوی ته د ۱۸۴ مرکزونه ترلې شودلې ول؛ خو له ټاکنو وروسته د ۱۹۰ مرکزونو رایې د یوه تومانند په ګټه د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په اطلاعاتي بانک کې موجودې وې.

دی وايي، دغه موارد یې د ملګرو ملتونو په واک کې ورکړل او تري یې غوښتنه وکړه، چې دا مسایل جدي ونیسي. ښاغلي فاروق له ملګرو ملتونو وغوښتل چې خپله یې طرفي وساتي او په خپلو کړو ژمنو عمل وکړي. دی وايي، تر کومه ځایه چې به ټاکنو کې پراخ او سازمانلدهي شوې درغلۍ شوې دي؛ نو دې مواردو ته رسیدګي به د ټاکنو په پایلو هم اغېز وکړي.

نوموړی په ټاکنو کې شوې درغلۍ د عادي وګړو کار نه ګڼي او وايي، د ټاکنو لوړ پوړي چارواکي او هغه مامورین د ټاکنو د کمېسیون له لورې ګومارل شوي؛ زده کړې ورکړل شوې او مرکزونو ته استول شوي، په دې درغلیو کې ښکیل دي.

هغه له کورنیو او بهرنیو څارونکیو ادارو هم غواړي، چې دا مسایل جدي ونیسي، ټولې درغلۍ له سیستم نه بهر کړي، خو ملي زعیم د پاکو رایو په پایله کې واک ته ورسیږي.

دی سره له دې چې وايي، په ټاکنو کې له پیچلو او بېلابېلو کړنو نه په ګټې درغلۍ شوې دي، زیاتوي، چې دا درغلۍ په بېلابېلو ولایاتو او ولسوالیو کې شوې دي. په دې اړه د اصلاحاتو او همپالنې ټیم ځینې اسناد هم د رسنیو په واک کې ورکړل.

افغانستان برای شرکت در ...

... گفت تا روز برگزاری نشست ویلز انتظار روشن شدن نتیجه، انتخابات و اشتراک رییس جمهور جدید افغانستان را در این نشست دارند.

انتظار حکومت افغانستان از این نشست چه است؟ آقای مستغنی در این باره گفت:

"بیشترین مباحث مربوط به اجندای جمهوری اسلامی افغانستان در این نشست، بالای نحوه، تداوم همکاری های نیرو های بین المللی با نیرو های افغانستان متمرکز خواهد بود، انتظار افغانستان از این نشست این است که متحدین بین المللی حکومت افغانستان، چنانچه تعهد سپرده اند بالای نحوه، ماموریت بعدی و شیوه، همکاری های نیرو های بین المللی با نیرو های امنیتی افغانستان به توافق برسند."

اجندای حکومت افغانستان در نشست ویلز متمرکز به چگونگی آموزش و تجهیز نیرو های نظامی افغان پس از سال ۲۰۱۴ میلادی می باشد.

این نشست دو روزه سران ناتو که به روز های پنجشنبه و جمعه آینده در شهر ویلز بریتانیا برگزار می گردد، در روز اول آن در پیوند به ماموریت نیرو های ناتو در افغانستان گفتگو خواهد شد.

شورای امنیت ملی افغانستان روز یکشنبه فیصله کرده است که اگر تا برگزاری این نشست نتیجه، انتخابات ریاست جمهوری روشن نشود، بسم الله محمدی وزیر دفاع افغانستان به نماینده گی از این کشور در آن اشتراک می کند.

قرار است دراین نشست جامعه جهانی برای تمویل نیرو های افغان سالانه بر کمک ۴٫۱ میلیارد دالر که قبلاً تعهد آن را کرده است نیز توافق کند.

اما سخنگوی وزارت امور خارجه افغانستان می گوید که حکومت این کشور گفتگو ها را در این باره که این رقم به ۵٫۵ میلیارد دالر از سوی جامعه جهانی افزایش یابد، آغاز کرده است.

د خان او قادري پلويانو...

۳ کسان مړه او تر ۵۰۰ زیات ټپیان شوي، چې ماشومان او میرمنې هم پکې دي.

دغو مظاهره چیانو د دوشنبې په ورځ یو ځل بیا د صدراعظم نواز شریف د دفتر او همداراز د پاکستان د دولتي تلویزیون پر ودانۍ سربېره پر یو شمېر نورو دولتي ودانیو برید وکړ، چې په پولیسو یې د ډبرو او تیت پرک کولو لپاره له اوښلن ګاز او ربړي مرمیو کار واخیست.

د پاکستان د دولتي تلویزیون رییس اطهر فاروق له رسنیو سره په خبرو کې وویل، چې پر ودانۍ برید کوونکي په وسلو سمبال وو، چې کارمندان یې ووهل او ودانۍ ته سخت مالي زیان واړوه؛

"مظاهره چیان ټول په وسلو او کوتکونو سمبال وو، او پر دې پوهېدل چې په ودانۍ کې کومو ځېزونو ته زیان واړوي، څو د تلویزیون خپرونې قطع شي."

هغه زیاته کړه، چې د تلویزیون پر ودانۍ د مظاهره چیانو په برید کې د ۲۰ کامرو په ګډون یو شمېر نور ځیزونه ورک شوي دي.

د عمران خان او قادري مظاهره چیان چې په کوتکونو او سپکو وسلو سمبال دي، پر پولیسو او نورو امنیتي سرتېرو سخت تشدد کړی، چې له امله یې پاکستاني حکومت د ډېرو دولتي ودانیو امنیت پاکستانیو پوځیانو ته سپارلی.

د عوامي تحریک ګوند مشر طاهر القادري خپلو پلویانو ته د وینا پر مهال وویل، چې دوی د صدراعظم د دفتر مخې ته رسېدلي او اوس هېڅوک د ازادۍ او انقلاب د سمندر مخه نه شي نیولای او زیاته یې کړه، چې د نواز شریف تر استعفا او د نوي پاکستان تر جوړېدا به له خپلو احتجاجونو او مظاهرو لاس وانخلي.